هفته واره رساله

تحریرات امیر اہلِ سنت، قسط: 3

# اَربعینِ عطّار

قسط: 3

د امیرِ اهلِ سُنّت دامت برکاتہم العالیہ په قلم لیکلې شوې 40 احادیثِ مبارکه

(پښتو)



شیخِ طریقت امیرِ اهلِ سُنّت حضرتِ علامه مولانا ابو بلال

**محمد اِلیاس عطّار قادري رَضَوي** دامت برکاتہم العالیہ

ترجمه

TRANSLATION DEPARTMENT

(DAWAT-E-ISLAMI)

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی خَاتَمِ النَّبِیّٖن

# اربعینِ عطار (قسط: 3)

دُعائے عطّار: یا الله پاکه! څوک چې دا رساله " اَربعینِ عطّار (قسط: 3) " ولولي یا واوري، د هغه د خپل خوږ اخري نبي، مکي مَدَني مُحَمَّدِ عربي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په جنَّت کښې ګاؤنډ نصیب کړې- اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّين صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم-

## د درود شریف فضیلت

د اخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: " چا چې په ما باندې دُرُودِ پاک ولوستو، د هغه دُرُودِ پاک به ما ته رارسي او زۀ به په هغه باندې درود (یعني د رحمت دُعا) لیږم او د دې نه علاوه به د هغه د پاره 10 نیکۍ لیکلے کیږي-"

(اَلْمُعْجَمُ الْاَوْسَط، 446/1، حدیث: 1642)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب ❀❀❀ صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## وړومبے دا ولولئ

امیرِ اهلِسُنَّت باني دعوتِ اِسلامي حضرت علامه مولانا محمد اِلیاس عطار قادري دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه په مختلفو موضوعاتو باندې حدیثونه مبارک لیکي او مونږ ته یې راکوي- کوم چې راجمع کولے شي او د وړومبو دوو اربعین عطار (قسط: 1 او قسط: 2) په شان اوس قسط: 3 جاري کولے شي - د موقعې په مناسبت سره د بعضو حدیثونو مبارکو شرح هم د شعبې د طرف نه شامله کړے شوې ده د پاره د دې چې د لوستونکو د پاره د حدیثونو مبارکو معنې او مفهوم اسان شي- دا رساله هم د امیرِ اهلِسُنَّت په لاس د لیکلے شوو حدیثونو مبارکو او د شعبه " **هفته وار رساله مطالعه**" د طرف نه دا حدیثونه کمپوز شوي پیش کولے شي-

## پهٔ کومه دروازه چې غواړې جنّت ته داخِل شه

د اخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: " زما د اُمت د پاره چې چا 40 حديثونه ياد کړل د کومو پهٔ ذريعه چې الله پاک هغوئي ته نفع ورکړي نو هغهٔ ته به وئيلے کيږي چې: " **د جنّت پهٔ کومه دروازه چې داخليدل غواړې نو داخِل شه۔"**

(اَلْعِلَلُ الْمُتَنَاہِیَةُ لِاِبْنِ جَوْزِی، 119/1، حدیث: 162)

پهٔ يو بَل حديث پاک کښې دي چې د الله پاک خوږ اخري نبي، مکي مَدَني، مُحَمَّدِ عربي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائيلے دے: څوک چې زما اُمت ته د رسولو د پاره د دِين پهٔ باره کښې " **څلويښت حديثونه**" ياد کړي نو الله پاک به هغه د قيامت پهٔ ورځ د عالِمِ دِين پهٔ حيثيت راپاځوي، د قيامت پهٔ ورځ به زهٔ د هغهٔ **شفاعت** کووم او د هغهٔ پهٔ حق کښې به ګواهي ورکووم۔ (مِشکاةُ الْمَصابِیْح، 68/1، حدیث: 258)

## هم څلويښت حديثونه ولې؟

حضرت شيخ عبدُ الحق **محدِّثِ** دِهلوي رَحْمَةُ اللّٰہِ عَلَیْہ د دې حديث پاک پهٔ شرح کښې ليکلي دي: علمائے کرام فرمائي چې د حُضُورِ پاک صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د دې ارشاد نه مُراد خلقو ته څلويښت حديثونه رَسَوَل دي، که هغه ياد هم نهٔ وي او نهٔ هغهٔ ته د هغې معنیٰ معلومه وي۔ د دې حديث پاک پهٔ وجه **مخکښينو** لوئي لوئي علمائے کرامو د خوږ آقا صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د شفاعت د اُميدوار جوړيدو او د خلقو د جوړولو د پاره اَربعينات (يعنې څلويښت حديثونه) ليکلي دي۔ شيخ عبدُ الحق **محدِّثِ** دِهلوي رَحْمَةُ اللّٰہِ عَلَیْہ د ځان باره کښې عاجزي او انکساري کوي او ليکي: فقير حقير هم د "**څلويښتو حديثونو**" يوه **مجموعه** ليکلې ده۔ د عِلمِ حديث د خدمت او تدريس نه پس چې ما ته ورومبے د کوم ليک توفيق راکړے شو هغه "**اربعين**" (يعنې څلويښت حديثونه) دي۔ (اشعة اللمعات (اردو)، 517/1 ملخصاً)

الله کريم دې پهٔ خپل فضل او کرم سره دا کتاب زمونږ د پير او مُرشِد اميرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَکَاتُہُمُ الْعَالِیَه ، د هغوئي د مور او پلار او چا چا چې پهٔ دې کتاب باندې کار کړے دے

د هغوئي ټولو د پاره د بې حسابه بخښنې او د خوږ مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د شفاعت ذريعه وګرځوي- اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

والسّلام مع الاکرام
طالبِ غمِ مدينه و بقيع و بے حساب مغفرت
ابو محمد طاهرعطّاري مدني عُفِي عنه
20 محرم شريف 1447/16 جولائي 2025

اَلْحَمْدُ لِلّٰہِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی خَاتَمِ النَّبِیّٖن ط
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْم ط بِسْمِ اللّٰہِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْم ط

## اربعینِ عطّار (قسط: 3)

﴿1﴾

فَاطِمَۃُ بِضْعَۃٌ مِنِّیْ فَمَنْ اَغْضَبَھَا اَغْضَبَنِیْ-

د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: ” فاطِمه“ زما ټوټه ده، چا چې دا ناراضه کړه هغهٔ زهٔ ناراضه کړم- (بُخاری، 550/2، حدیث:3767)

د حديث شرح: حضرت علّامه علي قاري رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ فرمائي: يعني ” فاطِمه “ زما د غوښې ټوټه ده- (مِرْقَاۃُ الْمَفَاتِیْح، 514/10، تحت الحديث: 6139)

﴿2﴾

اَفْضَلُ الصِّیَامِ، بَعْدَ رَمَضَانَ، شَھْرُ اللّٰہِ الْمُحَرَّمُ-

د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: د روژې د مياشتې نه پس د ټولو نه افضلې روژې د الله پاک د مياشتې محرم روژې دي-

(مُسلِم، ص456، حدیث:2755 ملتقطاً)

**د حديث شرح:** محرم شريف د نوي اِسلامي کال ورومبی میاشت ده، او پهٔ دې کال لا د رَمَضَانُ المُبَارَک شريف میاشت نهٔ وي راغلي چې نوے کال د روژې سره شروع شي کومه چې پهٔ افضل اعمالو کښې ده، د کومې پهٔ باره کښې چې نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي چې روژه رڼا ده- نو چې انسان خپل کال د رڼا نه شروع کړي نو باقي کال به هم پهٔ هٰغه رڼا کښې تيروي- (اَلْمُفْهِمُ لِمَا اَشْكَلَ مِنْ تَلْخِيْصِ كِتَابِ مُسْلِمٍ، 3/235، تحت الحديث:1032)

محرم ته د اللّٰه میاشت وفرمائيلے شوه يعني د اللّٰه پاک د محبوبانو میاشت چې څوک د اللّٰه د بنده ګانو شي نو هغه د اللّٰه شي او پهٔ کومه ورځ يا پهٔ کومه میاشت کښې چې يو اهم کار شوے وي نو پهٔ هغې کښې عبادتونه کول بهتر دي ځکه د ربيعُ الاخر يولسم، د ربيع الاول دولسم، د رجب 27 افضل تاريخونه دي او پهٔ دې کښې عبادتونه، روزانه نفلونه، ميلاد شريف وغيره کول بهتر دي-" (مِرْاٰةُ الْمَنَاجِيْح، 3/179 بتغيرٍ)

﴿3﴾

## لَا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ مَنْ لَا يَاْمَنُ جَارُهُ بَوَائِقَهُ-

د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: " هغه به جنّت ته نهٔ ځي د چا ګاؤنډي چې د هغه د افتونو نه پهٔ امن کښې نهٔ وي-"

(مُسلِم، ص48، حديث:172)

**د حديث شرح:** دلته د ګاؤنډي نه مُراد پهٔ خوا کښې اوسيدونکے او پهٔ کار روزګار وغيره کښې يو ځائے اوسيدونکي دواړه کيدے شي، پهٔ دوئي کښې د هر يو د حقونو خيال ساتل ضروري دي او د عامو انسانانو پهٔ ځائے دوئي ته تکليف رَسَوَل ډير زيات حرام او د ګناه کار دے-

جنّت ته د نهٔ داخليدو دوه مطلبونه دي- ﴿1﴾ کوم کَس چې ګاؤنډي ته تکليف رَسَوَل حلال ګڼي، حالانکې هغه ته معلومه وي چې شريعت دا حرام ګرځولي دي نو داسې کَس (د حرامو د حلالو ګڼلو پهٔ وجه) کافِر دے او چرې به هم جنّت ته نهٔ داخليږي-

﴿2﴾ کوم کَس چې ګاؤنډي ته تکلیف رَسَوَل ګناه ګڼي خو په دې ګناه کښې اخته دے د هغه سزا دا ده چې هغه به جنَّت ته هُغه وخت نۀ داخلیږي کله چې به هغه د کامیابو خلقو د پاره پرانستے شوے وي بلکې هغه به د څۀ وخت د پاره منع کولے شي بیا ممکن ده چې هغه ته سزا ورکړے شي یا اللہ پاک یې معاف کړي او جنَّت ته یې داخل کړي یا چې کومو خلقو د ګاؤنډیانو حقونه ادا کول دا به د هغوئي سره جنَّت ته نۀ داخلیږي یا به هغه هُغه خاص جنَّت ته نۀ داخلولے کیږي کوم چې د ګاؤنډیانو د حقونو ادا کوونکو د پاره جوړ کړے شوے دے-

(شَرۡحُ صَحِیۡحِ مُسۡلِمٍ لِلنَّوَوِی، 17/2۔ اَلۡمُفۡهِمُ لِمَا اَشۡکَلَ مِنۡ تَلۡخِیۡصِ کِتَابِ مُسۡلِمٍ، 228/1، تحت الحدیث: 37)

﴿4﴾

لَا تُظۡهِرِ الشَّمَاتَةَ لِاَخِیۡكَ فَیَرۡحَمَهُ اللهُ وَیَبۡتَلِیۡكَ۔

د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: د خپل ورور شَماتت (یعني د هغۀ په مصیبت باندې خوشحالي) مۀ کوه ولې چې اللّٰه پاک به په هغه باندې رحم وکړي او تا به په هغې کښې اخته کړي- (تِرمِذِی، 227/4، حدیث:2514)

د حدیث شرح: حضرت علّامه علي قاري حنفي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَیۡه فرمائي: د خپل یو دښمن یا مسلمان ورور په دِیني، د دُنیا یا په مالي مصیبت باندې مۀ خوشحالیږه ولې چې کیدے شي ستا خپل ځان په هُغه (مصیبت کښې د اخته) کس نه د ښې او اوچتې مرتبې والا د ګڼلو په وجه اللّٰه پاک ستا د رسوا کولو د پاره په هغه باندې رحم وکړي، په بعضې شروحاتو کښې دي: هغه ته عافیت عطا کړي او تا په ازمیښت کښې اخته کړي-

(مِرۡقَاةُ الۡمَفَاتِیۡح، 597/8، تحت الحدیث:4856) (شَرۡحُ مَصَابِیۡحُ السُّنَّفة، 254/5، تحت الحدیث:3784)

﴿5﴾

## په کور کښې اتفاق وي

ثَلَاثَةٌ كُلُّهُمۡ ضَامِنٌ عَلَی اللهِ عَزَّوَجَلَّ: وَرَجُلٌ دَخَلَ بَیۡتَهُ بِسَلَامٍ فَهُوَ ضَامِنٌ عَلَی اللهِ عَزَّوَجَلَّ۔

د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: درې کسان داسې دي د کومو ذِمه چې الله پاک اخستې ده (په هغوئي کښې دريم) هُغه کس کوم چې خپل کور ته په سلام کولو داخل شي- (اَبُوْ دَاوٗد، 12/3، حدیث: 2494 ملتقطاً)

**د حديث شرح:** د دې حديث په شرح کښې دا هم دي چې د دې سره په هُغه کور کښې اتفاق، په رزق کښې برکت او د نيکو اعمالو توفيق نصيب کيږي- (مِرْاٰۃُ الْمَنَاجِیْح، 448/1) کله چې يو کَس کور ته داخليږي او خپل کور والؤ ته سلام وکړي نو الله پاک هغۀ ته برکت او ډير زيات ثواب ورکوي- دا هم وئيلے شوي دي چې د دې مطلب دا دے چې کله هغه خپل کور ته داخل شي نو (بغير د ضرورت) نه دې بهر نۀ ووځي چې هغۀ (د بهر د افتونو او بلاګانو نه محفوظ وي- (مِرْقَاۃُ الْمَفَاتِیْح، 432/2، تحت الحدیث: 727)

## ﴿6﴾

## لَيْسَ مِنْكُنَّ اِمْرَاَةٌ تَحَلَّى ذَهَبًا تُظْهِرُهُ، اِلَّا عُذِّبَتْ بِهٖ

د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: ”په تاسو کښې چې کومه زنانه د سرو زرو کالے اچوي چې خلقو ته يې ښکاره کړي هغې ته به په دې وجه عذاب ورکړے کيږي-“ (اَبُوْ دَاوٗد، 126/4، حدیث: 4237)

**د حديث شرح:** يعنې نامحرمهنارينؤ (يعنې د کومو سره چې د هميشه د پاره نکاح حرامه نۀ وي) باندې يې ظاهر کړي چې خپل حُسن او کالي نورو ته وښائي يا د فخر او غرور د پاره ځان ښائي يا يې غريبو زنانؤ ته د فخر په توګه ښائي چې هغوئي ورته خفه شي-
(مِرْقَاۃُ الْمَفَاتِیْح، 138/6 ماخوذاً)

## ﴿7﴾

## اَلنَّظَرُ اِلٰى وَجْهِ عَلِيٍّ عِبَادَةٌ-

د حسنينو [رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُم] د نيکه بابا جان صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: ” عليُّ المُرتضیٰ ته کتل عبادت دے-“ (اَلْمُسْتَدْرَک، 118/4، حدیث: 4737)

﴿8﴾

## اَلدُّعَآءُ سِلَاحُ الْمُؤْمِنِ۔

د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: "دُعا د مؤمِن وسله ده۔" (اَلْمُسْتَدْرَک، 2/162، حديث:1855)

د حديث شرح: مؤمِن د خپلې دُعا په ذريعه خپل مصيبتونه داسې لرې کوي او د هغې علاج کوي لکه څنګه چې د وسلې په ذريعه دښمن لرې کولےشي، د مؤمِن د دُعا سره د مصيبتونو درې صورتونه دي۔ ﴿1﴾ دعا د مصيبت نه زياده مضبوطه وي نو دُعا مصيبت لرې کوي۔ ﴿2﴾ چې دُعا د مصيبت نه کمزورې وي نو مصيبت بنده ته رسي خو کله کله د دُعا په برکت د مصيبت سخت والے کميږي۔ ﴿3﴾ دعا او مصيبت دواړه په خپل مينځ کښې جګړه کوي نو په هغې کښې هره يوه يو بل منع کوي۔

د الله پاک خوږ نبي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دُعا ته د وسلې په شان په فرمائيلو دا خبره ظاهره کړه چې د وسلې فائده صرف په تيره کيدو کښې نهٔ وي بلکې د دې اثر کول د دې په استعمالونکي باندې هم دي۔ چې وسله مکمل وي، په هغې کښې څهٔ خرابي نهٔ وي، ګزار کوونکے مضبوط وي او څهٔ خنډ [يعنې رکاوټ] نهٔ وي، نو په دې سره په دښمن باندې غلبه حاصليږي۔

خو که په دې دريو واړو کښې يو څيز هم نهٔ وي نو اثر يې کميږي۔ دغه شان که دُعا کولو والا دُعا په مکملې توجه سره نهٔ کوي يا په قبليدو کښې يې څهٔ خنډ وي نو د دُعا اثر نهٔ ظاهريږي۔ او چې کله پخپله دُعا هُم صحيح نهٔ وي او دُعا کولو والا په توجه سره دُعا نهٔ کوي يا هلته د دُعا د قبليدو سره څهٔ بل يو خنډ راشي نو د دُعا د قبليدو اثر نهٔ ظاهريږي۔ (فَيْضُ الْقَدِيْر، 3/722، تحت الحديث:4258)

﴿9﴾

كُلُّ الذُّنُوْبِ يُؤَخِّرُ اللهُ مَا شَآءَ مِنْهَا اِلٰى يَوْمِ الْقِيَامَةِ اِلَّا عُقُوْقَ الْوَالِدَيْنِ فَاِنَّ اللهَ تَعَالٰى يُعَجِّلُهُ لِصَاحِبِهٖ فِى الْحَيَاةِ قَبْلَ الْمَمَاتِ۔

د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: " د ټولو ګناهونو سزا که الله پاک وغواړي نو د قیامت د پاره يـې پريښودے شي خو د مور پلار د نافرمانۍ سزا پهٔ ژوندانه وررَسوي۔" (اَلْمُسْتَدْرَک، 216/5، حدیث:7345)

د حديث شرح: حضرت علّامه علي قاري حنفي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: د مور او پلار نافرمانه ته سزا د قيامت د ورځې پورې نهٔ وروستو کيږي بلکې هغه نافرمانه ته د مرګ نه مخکښې پهٔ خپل ژوندانهٔ یا د مور او پلار پهٔ ژوندانهٔ کښې سزا ورکول هم مُراد کیدے شي۔ (مِرْقَاةُ الْمَفَاتِيْح، 679/8، تحت الحديث: 4945)

﴿10﴾

مَنْ اَنْفَقَ زَوْجاً مِنْ مَالِهٖ فِىْ سَبِيْلِ اللهِ دَعَتْهُ خَزَنَةُ الْجَنَّةِ يَا مُسْلِمُ هٰذَا خَيْرٌ هَلُمَّ اِلَيْهِ

د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: کوم ګس چې د څه څيز جوړه د الله پاک پهٔ لاره کښې خرچ کړي، هغه ته به د جنَّت دربان داسې اواز کوي: اے مسلمانه! دا دروازه بهتره ده، دلته راشه!

(اَلْمُسْنَدُ لِلْاِمَامِ اَحْمَد، 295/3، حديث: 8798 ملخصا)

اعلیٰ حضرت، امامِ اهلِسُنَّت امام احمد رضا خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: بهتره دا ده چې پهٔ صدقه (يعني خيرات) کښې څهٔ ورکوي نو د دوه دي ورکوي لکه څنګه چې پهٔ حديثِ پاک کښې راغلي مثلاً سرهٔ زر ورکوي نو دوه پيسې دي ورکړي ، ډوډۍ ورکوي نو دوه ډوډۍ دي ورکړي--! (فتاویٰ رضویه، 639/7)

﴾11﴿

## ډکه زمکه سرۀ زر

لَوْاَنَّ رَجُلًا صَامَ يَوْمًا تَطَوُّعًا، ثُمَّ اُعْطِيَ مِلْءَ الْاَرْضِ ذَهَبًا لَمْ يَسْتَوْفِ ثَوَابَهُ دُوْنَ يَوْمِ الْحِسَابِ۔

د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: که چا یوه ورځ نفلي روژه ونیوله او ډکه زمکه سرۀ زر هغه ته ورکړے شي نو بیا به هم د هغې ثواب پوره نۀ شي، د هغې ثواب خو به هم د قیامت پۀ ورځ باندې میلاؤیږي۔

(مُسْنَدُ اَبِي يعلٰى، 353/5، حديث:6104)

﴾12﴿

اِذَا صَلّٰى ثُمَّ جَلَسَ فِيْ مَجْلِسِهِ الَّذِيْ صَلّٰى فِيْهِ، لَمْ تَزَلِ الْمَلَائِكَةُ تُصَلِّيْ عَلَيْهِ: مَا لَمْ يُحْدِثْ اَوْ يَقُمْ۔

د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: کوم بنده چې نـمونځ وکړي نو تر څو پورې پۀ هٰغه خپل ځائے ناست وي فرښتے د هغۀ د پاره د بخښنې دُعاګانې کوي [1] تر دې پورې چې اودس یـې مات شي یا پاځي۔

(مُسْنَدُ اَبِي يعلٰى، 469/5، حديث:6432 ملتقطاً)

﴾13﴿

## د بخښنې نه محرومه

تُعْرَضُ الْاَعْمَالُ عَلَى اللّٰهِ عَزَّوَجَلَّ يَوْمَ الْاِثْنَيْنِ وَالْخَمِيْسِ، فَيَغْفِرُ اللّٰهُ اِلَّا مَا كَانَ مِنْ مُشَاحِنَيْنِ، اَوْ قَاطِعِ رَحِمٍ۔

---

[1] .... د فرښتو د بخښنې دُعا د هٰغه (ناست کس) د پاره دا ده: اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لَهُ اَللّٰهُمَّ ارْحَمْهُ۔ (یعنې: اے الله پاکه! تۀ دا اوبخښې، اے الله پاکه تۀ پۀ دۀ باندې رحم وکړې۔)

د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: د ګل او زيارت په ورځ د الله پاک په حُضُور کښې د خلقو اعمال پيش کيږي، نو الله پاک په خپل مينځ کښې د دښمنۍ او د قطعِ رحمۍ (يعنې د خپلولۍ ماتوونکو) نه علاوه ټول بخښي-

(اَلْمُعْجَمُ الْكَبِيْر، 167/1، حديث:409)

د حديث شرح: اِمامِ حليمي شافعي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: د اعمالو ليکونکې فرښتے بدليږي رابدليږي، د فرښتو يوه ډله د ګل شريف نه د زيارت د ورځې پورې وي بيا هٔغه ډله د اسمان طرف ته لاړه شي او دويمه ډله د زيارت نه د ګل ورځې پورې وي او بيا هٔغه ډله د اسمان طرف ته لاړه شي- چې کله هم يوه ډله اسمان ته خپل ځائے ته تشريف يوسي نو پهٔ اعمال نامه کښې چې څهٔ هغوئي ليکلي وي هغه لولي، د الله پاک پهٔ بارګاه کښې د اعمال نامې د پيش کولو دا صورت وي اګر چې الله پاک د هغوئي د ليکلو يا د اعمال نامې د لوستلو او اوريدو نه غني (يعنې بے نيازه) دے ځکه چې هغه د خلقو د اعمالو نه د ټولو نه زيات خبر دے- الله پاک د ګنهګارانو ګناهونه بخښي، دا حديث او د دې نه مخکښې والا حديث کښې د بخښنې نه مُراد د صغيره (يعنې د وړو) ګناهونو بخښنه ده نهٔ چې د کبيره (يعنې غټو) ګناهونو، يعنې د کبيره ګناهونو د معافۍ د پاره توبه ضروري ده-

(اَلتَّيْسِيْرُ بِشَرْحِ الْجَامِعِ الصَّغِيْر، 450/1)

﴿14﴾

## اَلْقَهْقَهَةُ مِنَ الشَّيْطَانِ، وَالتَّبَسُّمُ مِنَ اللهِ-

د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: پهٔ کړس خندل (يعنې پهٔ اواز سره خاندل) د شيطان د طرف نه دي او مُسکي کيدل د الله پاک د طرف نه دي- (اَلْمُعْجَمُ الصَّغِيْر، 104/2، حديث:1053)

د مُسکي کيدو او پهٔ کړس د خندلو تعريف: داسې خاندل چې صرف غاښونه ښکاره شي او اواز پيدا نهٔ شي دې ته "مُسکا" وئيلے شي، او داسې خاندل چې ډير اواز پيدا شي چې نور يـې هم واوري او خُله کولاو شي دا "پهٔ کړس" خاندل دي- (مِرْاٰةُ الْمَنَاجِيْح، 401/6 ملخصاً)

د حدیث شرح: یعنې شیطان پهٔ کړس خندا خوښوي او پهٔ کړس خندا باندې راغب کوي او الله پاک مُسکا خوښوي او الله پاک د مُسکي کیدونکو نه ناراضه کیږي نهٔ او دا د انبیائے کرامو علیہم السلام طریقه ده- (فَیْضُ الْقَدِیْر، 706/4، تحت الحدیث: 6196)

﴿15﴾

## د ګناهونو معافي میلاؤیږي

مَا انْتَعَلَ عَبْدٌ قَطُّ وَلَا تَخَفَّفَ وَلَا لَبِسَ ثَوْبًا لِیَغْدُوَ فِیْ طَلَبِ عِلْمٍ اِلَّا غَفَرَ اللهُ لَهٗ ذُنُوْبَهٗ حَیْثُ یَخْطُوْ عَتَبَةَ بَابِهٖ-

د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: کوم بنده چې د عِلم پهٔ لټون کښې پیزار، موزې یا جامې واغوندي نو د خپل کور د دروازې نه د وتو سره الله پاک د هغه ګناهونه معاف کوي- (اَلْمُعْجَمُ الْاَوْسَط، 204/4، حدیث: 5722)

﴿16﴾

مَنْ اَرَادَ اَمْرًا فَشَاوَرَ فِیْهِ اِمْرَأً مُسْلِمًا وَفَّقَهُ اللهُ اَرْشَدَ اُمُوْرِهٖ-

د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: " کوم ګس چې د یو کار اراده وکړي او پهٔ هغې کښې د یو مسلمان ګس سره مشوره وکړي الله پاک هغه ته د صحیح کار کولو هدایت کوي-" (اَلْمُعْجَمُ الْاَوْسَط، 152/6، حدیث: 8333)

﴿17﴾

اِنَّ اللهَ لَیَدْفَعُ بِالْمُسْلِمِ الصَّالِحِ عَنْ مِائَةِ اَهْلِ بَیْتٍ مِنْ جِیْرَانِهِ الْبَلَآءَ-

د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: " الله پاک د یو صالِح (یعنې نیک) مسلمان پهٔ برکت سره د هغه د ګاؤنډ د 100 کورونو والؤ نه بلاګانې (یعنې افتونه) لرې کوي -" (اَلْمُعْجَمُ الْاَوْسَط، 129/3، حدیث: 4080)

د حدیث شرح: الله پاک پهٔ خپله بارګاه کښې د هُغه نیک انسان د مقام او مرتبې یا د هغه د دُعا پهٔ وجه بلاګانې لرې کوي- د سلو (100) شمیره د کثرت د بیانولو د پاره ده نهٔ چې د حد بندۍ د پاره ده ځکه چې د ګاؤنډ چې کومه شمیره بیانولے شي هغه د څلورو

طرفونو نه ځلوېښت ځلوېښت کورنه دي کوم چې د سلو نه زيات دي- (فَيْضُ الْقَدِيْر، 331/2، تحت الحديث:1794) په يو بَل ځائے کښې دي چې اللّٰه پاک د خپل ذِکر کوونکو په برکت سره د ذِکر نۀ کوونکو، د نمونځ کوونکو په برکت سره د نۀ کوونکو او د روژې نيوونکو په برکت سره د نۀ نيوونکو نه بلاګانې لرې کوي-

(اَلتَّيْسِيْرُ بِشَرْحِ الْجَامِعِ الصَّغِيْر، 261/1)

## ﴿18﴾

## بخښنه به وشي

اَكْرِمُوا الْخُبْزَ فَاِنَّهُ مِنْ بَرَكَاتِ السَّمَآءِ وَالْاَرْضِ، مَنْ اَكَلَ مَا سَقَطَ مِنَ السُّفْرَةِ غُفِرَلَهٗ

د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: "د ډوډۍ احترام کوئ ځکه چې دا د زمکې او د اسمان د برکتونو نه ده، کوم کَس چې د دسترخوان نه غورځيدلې ډوډۍ وخوري هغه به بخښلے کيږي-" (اَلْجَامِعُ الصَّغِيْر، ص88، حديث: 1426)

د حديث شرح: يعني اللّٰه پاک به د هغه واړه ګناهونه اوبخښي او عذاب به نۀ ورکوي-
(فَيْضُ الْقَدِيْر، 118/2، تحت الحديث:1426)

## ﴿19﴾

مَنْ دَعَا رَجُلًا بِغَيْرِ اِسْمِهٖ لَعَنَتْهُ الْمَلَآئِكَةُ

د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: "چا چې يو مسلمان د هغه د نوم نه علاوه په بل لفظ (يعني غلط نوم) سره اوبللو په هغه باندې فرښتے لعنت ليږي-" (عَمَلُ الْيَوْمِ وَاللَّيْلَة، ص175، حديث: 395)

د حديث شرح: يعني په غلط نوم يا په څۀ داسې نوم سره راوبلي کوم چې هغه نۀ خوښوي په هغه باندې فرښتے لعنت (يعني د نيکانو خلقو د مقام او مرتبې نه د لرې کيدو دُعا) کوي البته چا ته په "يا عبد اللّٰه" يعني اے د اللّٰه بنده! وئيلو کښې څه باک نشته-

(فَيْضُ الْقَدِيْر، 163/6، تحت الحديث:8666)

﴿20﴾

اَدِّبُوْا اَوْلَادَكُمْ عَلٰى خِصَالٍ ثَلَاثٍ: حُبِّ نَبِيِّكُمْ، وَحُبِّ اَهْلِ بَيْتِهٖ، وَعَلٰى قِرَاءَةِ الْقُرْآنِ۔

د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: خپل اولاد ته دا درې خبرې ښایئ: د خپل نبي محبت، د اهلِ بیتو محبت او د قرآن تلاوت۔

(اِتْحَافُ الْخِيَرَةِ الْمَهَرَةِ بِزَوَائِدِ الْمَسَانِيْدِ الْعَشَرَة، 386/10، 10101)

د حدیث شرح: حضرت علّامه عبدُ الرَّءوف مُناوي شافعي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: د دریو وارو خصلتونو د اهمیت په وجه خاص (د دې) ذِکر وکړے شو۔ مُراد دا دے چې اولاد د دې دریو وارو خصلتونو عادت کړئ چې په دې کښې هغوئي لوئي شي او همیشه په دې باندې قائم وي۔ د نبي (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) د محبت نه د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ایماني محبت مُراد دے۔ دا واجِب وي ځکه چې دا انسان د دِین په تابعداری راپاروي لار روانوي۔ (فَيْضُ الْقَدِيْر، 292/1)

﴿21﴾

مَنْ خَزَنَ لِسَانَهٗ سَتَرَ اللهُ عَوْرَتَهٗ وَمَنْ كَفَّ غَضَبَهٗ كَفَّ اللهُ عَنْهُ عَذَابَهٗ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَمَنِ اعْتَذَرَ اِلَى اللهِ عَزَّوَجَلَّ قَبِلَ عُذْرَهٗ۔

د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: ”کوم کَس چې د خپلې ژبې حفاظت کوي الله (پاک) به د هغه پرده فرمائي او څوک چې خپله غصه قابو کوي د قیامت په ورځ به الله پاک خپل عذاب د هغه نه منع کوي او څوک چې الله (پاک) ته عُذر پیش کوي الله (پاک) به د هغه عُذر قبلوي۔“

(شُعَبُ الْاِيْمَان، 315/6، حدیث: 8311)

د حدیث شرح: چا چې د خلقو عیبونه پټ کړل الله پاک به د خلقو او د فرښتو نه د هغه عیبونه پټ کړي۔

(شَرْحُ الطِّيْبِي، 299/9، تحت الحدیث: 5121) (مِرْقَاةُ الْمَفَاتِيْح، 844/8 تا 845، تحت الحدیث: 5121 ملخصاً)

﴿22﴾

اَكْرِمُوْا اَصْحَابِيْ، فَاِنَّهُمْ خِيَارُكُمْ۔

د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: " زما د صحابؤ عزت کوئ ځکه چې هغوئي په تاسو کښې بهترين خلق دي۔"

(مِشْكَاةُ الْمَصَابِيْح، 413/2، حديث: 6012)

د حديث شرح: تقريباً 400 کاله مخکښې تير شوے بزرګ حضرت علّامه علي قاري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: دا فرمان مبارک د اُمت د پاره دے چې د ټولو صحابۀ کرامو (عَلَيهِمُ الرِّضوَان) عزت او تعظيم وکړے شي۔ (مِرْقَاةُ الْمَفَاتِيْح، 362/10، تحت الحديث:6012) د کومو صحابۀ کرامو (عَلَيهِمُ الرِّضوَان) چې د حضور انور (صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم) صحبت نصيب شو، د حضور (صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم) نه يې عِلم او عمل حاصل کړو، د حضور (صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم) تربيت يې بياموندو هغوئي خو انسانان څۀ چې د فرښتو نه هم اوچت شو۔ د حضور (صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم) په جمال (يعني په ښکلي مخ) باندې يو نظر هغه کار کوي کوم چې د ټول عمر چِلّې خلوتونه عبادتونه نۀ شي کولے څوک هم د هغۀ (يعني د صحابي) په شان نۀ شي کيدے۔ (مراٰةُ المناجيح، 340/8)

صحابي چا ته وئيلے شي: حضرت علّامه حافِظ اِبنِ حجر عسقلاني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: کومو خوش قِسمتو چې د ايمان په حالت کښې د الله کريم د خوږ نبي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ملاقات کړے وي او هُم د ايمان په حالت کښې هغوئي د دُنيا نه تشريف وړے وي، هغه خوش قِسمتو ته " صحابي" وئيلے شي۔ (نُخْبَةُ الْفِكَر، ص 111)

﴿23﴾

اِنَّ اللهَ تَعَالٰى يُحِبُّ الشَّابَّ التَّآئِبَ۔

د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: په ځوانئ کښې توبه کوونکے کَس د الله پاک محبوب (يعني خوښ) دے۔"

(كَنْزُ الْعُمَّال، جز 4، 87/2، حديث: 10181)

د حديث شرح: څکه چې پۀ ځوانۍ کښې د شهوت (يعني خواهش) غلبه وي او عقل ناقص (يعني کمزورے) وي او د ګناهونو اسباب مضبوط وي څکه چې کله يو ځوان د ګناه د طاقت لرلو باوجود توبه کوي نو الله پاک د هغۀ سره محبت فرمائي-

(اَلتَّيْسِيْرُ بِشَرْحِ الْجَامِعِ الصَّغِيْر، 269/1)

﴿24﴾

مَنْ بَكٰى مِنْ خَشْيَةِ اللّٰهِ غَفَرَ اللّٰهُ لَهٗ۔

د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: ”کوم ګس چې د الله پاک د ويرې نه وژاړي، الله پاک به هغه اوبخښي-“

(کَنْزُ الْعُمَّال، جز: 3، 63/2، حديث:5909)

حضرت علّامه محمد بن عَلّان شافعي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه فرمائي: چې د الله پاک داسې ويره وي کومه چې انسان د الله پاک د احکاموتابعداره جوړ کړي او د ګناهونو نه يې منع کړي لهذا د چا سره چې داسې ويره وي هغه به د دوزخ وور ته نۀ داخليږي څکه چې دا د کريم پروردګار وعده ده- (دَلِيْلُ الْفَالِحِيْن، 364/2، تحت الحديث:448)

﴿25﴾

اَلسَّخَآءُ شَجَرَةٌ فِي الْجَنَّةِ وَعُثْمَانُ بْنُ عَفَّانٍ غُصْنٌ مِّنْ اَغْصَانِهَا۔

د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: ”سخاوت يوه جنّتي ونه ده او عثمان د هغې د ښاخونو نه يو ښاخ دے-“

(کَنْزُ الْعُمَّال، جز 11، 273/6، حديث: 32849)

﴿26﴾

لَا يَرٰى اِمْرَؤٌ مِنْ اَخِيْهِ سَيِّئَةً فَيَسْتُرُهَا عَلَيْهِ اِلَّا اُدْخِلَ الْجَنَّةَ۔

د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: کوم ګس چې د خپل ورور عيب ووينې او هغه پټ کړي نو هغه به جنّت ته داخلولے شي-“

(کَنْزُ الْعُمَّال، جز 3، 103/2، حديث: 6394)

﴿27﴾

مَنْ وُّلِدَ لَهٗ مَوْلُوْدٌ ذَكَرٌ فَسَمَّاهُ مُحَمَّدًا حُبًّا لِيْ وَتَبَرُّكًا بِاِسْمِيْ فَاِنَّهٗ هُوَ وَمَوْلُوْدُهٗ فِي الْجَنَّةِ ۔

د خوږ آقا و مولا، مكي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: ” د چا چې ځوي پيدا شي او هغه زما په محبت او زما د نوم د برکت حاصلولو د پاره د هغه نوم محمد کيږدي، هغه او د هغهٔ ځوي دواړه به جنَّت ته ځي۔“ (جَمْعُ الْجَوَامِع، 7/295، حديث:23255)

﴿28﴾

اِذَا تَرَكَ الْعَبْدُ الدُّعَاءَ لِلْوَالِدَيْنِ فَاِنَّهٗ يَنْقَطِعُ عَنْهُ الرِّزْقُ۔

د خوږ آقا و مولا، مكي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: ” بنده چې کله د مور پلار د پاره دُعا پريږدي د هغهٔ رزق کټ کړے شي۔“ (جَمْعُ الْجَوَامِع، 1/292، حديث:2138)

د اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه والدِ محترم مولانا نقي علي خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ليکلي دي: د مور او پلار د پاره دُعا ” سُنَّتِ قَدیمه“ (يعني پخوانۍ طريقه) ده چې د حضرت نُوح عَلَيْهِ السَّلَام د وخت نه جاري ده۔

اللّٰه پاک د هغوئي نه حکايت فرمائي: ﴿رَبِّ اغْفِرْ لِيْ وَلِوَالِدَيَّ﴾ (پ29، نوح:28)

**ترجمهٔ كنزُالعِرفان:** ” اے زما رَبه! ما او زما مور او پلار اوبخښې۔“ (فضائلِ دعا، ص90)

﴿29﴾

فِيْ رَجَبٍ يَوْمٌ وَلَيْلَةٌ، مَنْ صَامَ ذٰلِكَ الْيَوْمَ، وَقَامَ تِلْكَ اللَّيْلَةَ، كَانَ كَمَنْ صَامَ مِنَ الدَّهْرِ مِائَةَ سَنَةٍ، وَقَامَ مِائَةَ سَنَةٍ وَهُوَ لِثَلَاثٍ بَقِيْنَ مِنْ رَجَبٍ۔

د خوږ آقا و مولا، مكي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: ” په رجب کښې يوه ورځ او يوه شپه ده، څوک چې په هغه ورځ روژه ونيسي او د شپې قيام وکړي (يعني عبادت وکړي) نو لکه چې هغه 100 کاله روژې ونيولې، 100 کاله يې شپې روڼې [يعني د شپې عبادت] وکړو او دا د رجب 27 تاريخ دے۔“ (فَضَائِلُ الْاَوْقَاتِ لِلْبَيْهَقِي، ص23، حديث:12)

﴿30﴾

اِنَّ اللهَ لَيُكَفِّرُ عَنِ الْمُؤْمِنِ خَطَايَاهُ كُلَّهَا بِحُمّٰى لَيْلَةٍ۔

د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: ” الله پاک د يوې شپې د تبې په وجه د مؤمِن مخکښيني ټول ګناهونه ورانوي۔“

(اَلتَّرْغِيْب وَالتَّرْہِيب، 153/4، حديث: 78)

﴿31﴾

لَا يَقْبَلُ اللهُ عَمَلًا فِيْهِ مِثْقَالُ حَبَّةٍ مِّنْ خَرْدَلٍ مِنْ رِيَاءٍ۔

د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: ” الله پاک هغه عمل نهٔ قبلوي په کوم کښې چې د ووري د داني همره هم رِيا (يعني بل ته ښودل وي۔“ (اَلتَّرْغِيْب وَالتَّرْہِيب، 36/1، حديث: 27)

﴿32﴾

وَالَّذِیْ نَفْسِیْ بِيَدِهٖ اِنَّ فِیْ غُبَارِهَا شِفَآءً مِّنْ كُلِّ دَآءٍ۔

د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: په هغه ذات مې دې قَسم وي! د کوم په قبضه قدرت کښې چې زما ژوند دے، بے شکه د مدينے په خاوره کښې د هرې بيمارۍ شِفا ده۔“ (اَلتَّرْغِيْب وَالتَّرْہِيب، 149/2، حديث: 28)

د حضرت سعد بن ابي وقاص رَضِیَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دے چې کله رسولُ الله صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د غزوهٔ تبوک نه واپس تشريف راوړلو نو د تبوک نه د پاتې کيدونکو يو څو صحابهٔ کرامو عَلَيهِمُ الرِّضوَان سره ميلاؤ شو هغوئي دوړې وکړې، يو کَس خپله پوزه پټه کړه نبي کريم صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د هغوئي د پوزې نه کپړه لرې کړه او اِرشاد يې وفرمائيلو: په هغه ذات مې دې قَسم وي! د کوم په قبضه قدرت کښې چې زما ژوند دے! ”د مدينے په خاوره کښې د هرې بيمارۍ شِفا ده۔“ (جَامِعُ الْاُصُوْل لِلْجَزْرِی، 297/9، حديث: 6992)

د مدينے سرکار صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم بعضې صحابؤ ته حکم وکړو چې هغوئي دې په دې خاوره باندې د تبې عِلاج کوي۔ رسول الله صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به د مدينے منورې دوره د

خپل مخ مبارک نه نهٔ صفا کوله او صحابهٔ کرام رَضِیَ اللّٰہُ عَنْھُم به يې هم د دې نه منع کول او اِرشاد به يې فرمائيلو چې د مدينے پهٔ خاوره کښې شِفا ده- (جَذْبُ الْقُلُوْب، ص22، 27 ملخصاً)

﴿33﴾

مَنْ قَرَأَ سُوْرَةَ یٰسٓ فِیْ لَیْلَةِ الْجُمُعَةِ غُفِرَ لَهٗ-

د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: چا چې د جُمعې پهٔ شپه (يعني د زيارت او د جُمعې ترمينځه شپه) د سورهٔ يٰس تلاوت وکړو هغه به بخښلے کيږي- (اَلتَّرْغِیْب وَالتَّرْہِیْب، 298/1، حدیث:4)

د حديث شرح: مُراد دا دے چې د هغهٔ صغيره (يعني واړهٔ) ګناهونه به بخښلے کيږي- (ولې چې د کبيره يعني د غټو ګناهونو د پاره توبه ضروري ده-)

(فَتْحُ الْقَرِیْبِ الْمُجِیْبِ عَلَی التَّرْغِیْبِ وَالتَّرْہِیْب، 720/4، تحت الحدیث:1100)

﴿34﴾

تَسْتَغْفِرُ لَهُمُ الْحِيْتَانُ حَتّٰى يُفْطِرُوْا-

د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: "د رمضان د روژه دار د پاره مهيان د روژه ماتې پورې اِستِغفار کوي-"

(اَلتَّرْغِیْب وَالتَّرْہِیْب، 55/2، حدیث:6)

﴿35﴾

## د رِيا کولو نقصان

اِنَّ اللّٰهَ عَزَّوَجَلَّ حَرَّمَ الْجَنَّةَ عَلٰى كُلِّ مُرَآءٍ-

د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: "اللّٰه پاک پهٔ هر رِياکار باندې جنَّت حرام کړے دے-" (جَامِعُ الْاَحَادِیْث، 476/2، حدیث:6725)

د حديث شرح: حضرت علامه محمد عبد الرَّءُوف مناوي شافعي رَحْمَةُ اللّٰہِ عَلَیْه فرمائي: يعني رياکار مسلمان به وړومبے جنَّت ته نهٔ داخليږي- (فَیْضُ الْقَدِیْر، 286/2، تحت الحدیث:1725)

د رِيا تعريف: " د الله پاک د رضا نه علاوه پهٔ بله يوه اِراده عبادت کول-" لکه د عبادت نه دا غرض وي چې خلق د هغه د عبادت نه خبر شي چې هغه د خلقو نه مال را ټول کړي يا د هغه تعريف وکړي يا هغه نيک وګڼي يا د هغه عزت وغيره وکړي- (اَلزَّوَاجِر، 86/1)

﴿36﴾

## د بيمارۍ فضيلت

مَنْ مَرِضَ لَيْلَةً، فَصَبَرَ وَرَضِيَ بِهَا عَنِ اللهِ، خَرَجَ مِنْ ذُنُوْبِهٖ كَيَوْمٍ وَلَدَتْهُ اُمُّهٗ

د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: " څوک چې يوه شپه بيمار شو،او صبر يې وکړو او د الله پاک پهٔ رضا باندې راضي شو نو د ګناهونو نه داسې ووتو لکه څنګه چې مور هغه هم نن زيږولے وي-" (نَوَادِرُ الْاُصُوْل، 19/6، حديث: 1316)

﴿37﴾

فَاِنَّ مَرَضَ الْمُسْلِمِ يُذْهِبُ اللهُ بِهٖ خَطَايَاهُ، كَمَا تُذْهِبُ النَّارُ خَبَثَ الْحَدِيْدِ وَالْفِضَّةِ۔

د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: د مسلمان بيماري د هغهٔ نه ګناه داسې لرې کوي لکه څنګه چې وور د اوسپنې او د سپينو زرو نه خِيرے لرې کوي- (مَعْرِفَةُ الصَّحابَه، 3536/6، حديث: 7995)

د حديث شرح: کله چې مؤمِن بنده پهٔ بيمارۍ باندې صبر کوي او د الله پاک نه د ثواب اُميد ساتي نو هغه تهٔ دا فضيلت عطا کيږي، که کافِر بيمار وي يا هغهٔ ته مصيبت ورسي نو هغهٔ ته پهٔ دې باندې هيڅ ثواب نهٔ ميلاوېږي او نهٔ دا د هغهٔ د څهٔ عمل کفاره جوړيږي- بے شکه د بيمارو وغيره پهٔ ذريعه د مؤمِن بنده امتحان کيږي لکه څنګه چې سرهٔ زر او سپين زر پهٔ وور کنبې اچولے کيږي او کتلے کيږي که مؤمِن بنده پهٔ بيمارو وغيره باندې صبر کوي نو د هغهٔ نه ګناهونه لرې کيږي، لکه څنګه چې سرهٔ زر او سپين زر وور برداشت کوي نو د هغې نه ملاوټ لرې کيږي-

(شَرْحُ سُنَنِ اَبِي دَاود لِاِبْنِ رُسْلان، 277/13، تحت الحديث:3092)

﴾38﴿

## د ماشوم او د بوډا فرق

حِفْظُ الْغُلَامِ كَالنَّقْشِ فِى الْحَجَرِ وَحِفْظُ الرَّجُلِ بَعْدَ مَا كَبُرَ كَالْكِتَابِ عَلَى الْمَآءِ۔

د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: د وړوکي ماشوم يادول په کاڼي د کرښې په شان دي او د سړي په بوډا والي کښې څۀ څيز يادول په اوبو د ليکلو په شان دي۔ (اَلْفَقِيْهُ وَالْمُتَفَقِّهُ، 180/2، رقم: 820 ملتقطاً)

د حديث شرح: علامه عبد الرُّوف مناوي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: د بوډا انسان حواس د کمزوري کيدو په وجه د هغۀ ياد کړے شوي خبرې داسي باقي نۀ پاتې کيږي لکه څنګه چې په اوبو باندې ليکل باقي نۀ پاتې کيږي خو د وړوکي ماشوم قوتِ اِدراک (يعني ميموري، ياد داشت او د پوهې طاقت) د مضبوط والي په وجه هغه چې څۀ هم يادوي د هغۀ په ذهن کښې داسي محفوظ کيږي لکه څنګه چې په کاڼي باندې نخښه محفوظ کيږي۔ بعضې خلق وائي چې په ماشومتوب کښې عِلم حاصلول په کاڼي باندې د نخښې په شان دي اګر که په زيات عمر کښې عقل زيات وي خو په مختلفو کارونو کښې مشغولتيا هم زياته وي۔ (ماشومان د کار روزګار، ګټې وټې وغيره نه بے فِکره وي ځکه د هغوئي په ذهنونو کښې خبره زر او د ډير وخت د پاره باقي پاتې کيږي۔) (فَيْضُ الْقَدِيْر، 515/3، تحت الحديث: 3733)

﴾39﴿

## د سترګو په اِشاره باندې ويرول

لَا يَحِلُّ لِمُسْلِمٍ اَنْ يُّشِيْرَ اِلٰى اَخِيْهِ بِنَظْرَةٍ تُؤْذِيْه۔

د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: " د مسلمان د پاره جائز نۀ دي چې د بل مسلمان طرف ته په سترګو باندې داسي اِشاره وکړي د کومې نه چې هغۀ تکليف ورسي۔ (اِتْحَافُ السَّادَةِ الْمُتَّقِيْن، 177/7)

د حدیث شرح: څکه چې مؤمِن ته بغیر د شرعي اِجازت نه تکلیف رَسَوَل حرام دي- په دې حدیثِ پاک کښې دې طرف ته پام راګرځولے شوے دے چې په تکلیف رسوونکي نظر سره کتل حرام دي نو کوم کارونه چې د دې نه هم زیات دي، مثلاً چا مسلمان ته ردې بدې وئیل یا وهل، د هغهٔ بد بیانول د دې نه هم زیات دي-

(فَیْضُ الْقَدِیْر ، 643/3، تحت الحدیث: 8123)

﴿40﴾

مَنْ صَلّٰی رَکْعَتَیْنِ فِیْ خَلَآءٍ لَا یَرَاهُ اِلَّا اللّٰهُ وَالْمَلَآئِکَةُ کُتِبَ لَهٗ بَرَاءَةٌ مِّنَ النَّارِ-

د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: " څوک چې په تنهایۍ کښې دوه رکعته نـمونځ وکړي چې د الله پاک او د فرښتو نه علاوه یې څوک اونهٔ ویني د هغه د پاره د دوزخ نه ازادي لیکلے کیږي-" (جَمْعُ الْجَوَامِع، 200/7، حدیث:22365)

د حدیث شرح: حضرت علامه عبد الرَّءُوف مناوي شافعي رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ فرمائي: دا (یعنې په تنهایۍ کښې نفل نـمونځ کوونکے) به په اخرت کښې د هغه وور نه بچ کولے شي د کوم په ذریعه چې به منافق ته عذاب ورکولے شي یا د هغهٔ د پاره به ګواهي ورکولے شي چې هغه منافق نهٔ دے څکه چې منافقان کله نـمونځ ته ودریږي نو ډیر په ناراستۍ او په مات زړهٔ سره نـمونځ کوي، دا روایت د هغه (نفل) نـمونځ د فضیلت دلیل دے کوم چې په تنهایۍ کښې د خلقو نه پټ وکړے شي چې هغه نـمونځ د قبلیدو زیات لائق او نزدې دے- (فَیْضُ الْقَدِیْر ، 6/ 218، تحت الحدیث: 8808)

حضرت علامه علي بن احمد بن محمد عزیزي رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ فرمائي: ممکنه ده چې الله پاک د دې نفل نـمونځ کولو په برکت (هغه بنده) ته د رښتوني توبې توفیق عطا کړي یا د هغهٔ ګناهونه معاف کړي او د هغهٔ خصم (غوښتنه کوونکي) د هغهٔ نه راضي شي څکه به هغه ته د دوزخ وور نهٔ ورنزدې کیږي- (اَلسِّرَاجُ الْمُنِیْر ، 306/4)

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب ❀❀❀ صَلَّی اللّٰہُ علٰی مُحَمَّد

د راروانې هفتې رساله




فیضانِ مدینه محلّه سوداګران زړه سبزي منډۍ کراچي

UAN +92 21 111 25 26 92 0313-1139278

www.maktabatulmadinah.com / www.dawateislami.net

feedback@maktabatulmadinah.com / ilmia@dawateislami.net